مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۲/۱۰/۰۱

# د ایجړا کرامت

د پیښوریانو خبره؛ ښه راته پته ده چې زما د دې لیکنې عنوان به ځینو وطندارانو ته پیکه او څه بې نمکه غوندې ښکاري. زموږ د یو اروا ښاد کلیوال، ګلا جان کاکا عادت وو چې کله به یې کومه خبره په مزاج برابره نه وه نو له ځان سره به غلی شان وګنید؛ عالم په څه دي او سید عالم په څه؟ ځکه همدا اوس د هیواد ۹۴ سلنه خلک د بیوزلی او بیکارۍ له لاسه بغاري وهي او حتی ویل کیږي چې د خپلو پښتورګو خرڅولو ته اړ دي. بلې ادا چې د کرښې په کوزې خوا کې یوې پیغلوټې د نوبل جائزه واخیسته خو دلته ۱۴ میاشتې وشوې زموږ درې ملیونه خویندې او لونې د تعلیم د مشروع، قانوني او بنیادي حق څخه محرومې دي. ځینې جنابان خو لا په دې باور دي چې ښځه د کور او ګور لپاره پیدا ده او د دې فاني دنیا علم خو هسې مباح څیز دی چې نه په کې ثواب شته او نه عذاب. یعني هندو سترې، خدای ناراضه !؟

په دې وروستیو اونیو کې د ایزکانو او ټرانسجنډر په هکله درې مساله دار خبرونه په ټولنیزو او چاپي رسنیو کې زښته زیات ښکته پورته کیږي. لومړی خبر دا دی چې په یو غربي هیواد کې میشت یو مشهور افغان اعلان وکړ چې زوی یې خپل جنسیت بدل کړی او هغه اوس یوه انجلۍ ده او زه یې په تینګه ملاتړ کوم. همدارنګه زموږ د یو ګاونډي مملکت پارلمان هغه قانون تصویب کړ چې ترمخه به یې د ایجړاګانو ترڅنګ هغو وګړو ته هم برابر حقوق ورکول کیږی چې خپل جنسیت د خپلې غریزې او ارادې له مخې بدلوي. دریم خبر دا دی چې په یوې ویډیو کې یو درجن نرښځې لیدل کیږي شعارونه ورکوي:(حکومت جرمني باید همه ایزکان افغان را به اروپا انتقال نماید).

اکثره خلک انګیرې چې ګوندې ایجړا او ټرانسیجنډ / Transgender دواړه یو شی دی؛ خو په حقیقت کې هغه جلا جلا مفاهیم لري؛ لومړنی یې مور زادي او طبیعي پیدایښت دی او د انسان اراده په کې شامله نه ده. دوهم حالت یې د پیدایښت څخه وروسته د انسان د جنسي رغبت له مخې یو ارادي بهیر دی چې د جراحي عملیاتو له لارې ترسره کیږي. دائرة المعارف او یوه طبي ځیرنه څرګندوي چې (Gender Identity Disorder / د جنسیتي پیژندګلوی اختلال یا بې تولې کیدل) هغه پروسه ده چې کله ماشوم د مور په رحم کې وي، نو د ناڅرګندو عواملو له وجې د مغزو په هغې برخې کې ګډوډي راځي چې جنسي میلان او شهوت کنټرولوي. کله چې بیا دغه ماشوم وزیږیږي نو په درې کلنۍ کې هلک د انجلۍ په څیر او انجلۍ د هلک په شان حرکتونه او لوبې خوښوي.

مګر هغه مهال چې همدغه هلک یا انجلۍ د بلوغ پړاو ته ورسیږي، دلته د پارونې او بغاوت مرحله پیل کیږي. که دوئ په هغو هیوادونو کې اوسیږي چیرته چې هر بالغ کس د خپل شهواني خواهش له مخې ژوند کول غواړي، نو قوانین یې مرسته کوي او کولای شي چې خپل هویت له نر څخه ښځې او له ښځې څخه نر ته واړوي. په لویدیځې نړۍ کې چې دین له سیاست څخه جلا او قوانین د پارلمان او غوره شوو استازو لخوا جوړ او تصویب کیږي، هلته د ټرانسجنډر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولئ

**حق، د انساني حقوقو برخه ده. هغه د بالغ انسان خپل اختيار او ملکيت ګڼل کيږي او مخالفت يې له قانون څخه سرغړونه ده.**

**ولې له ديني پلوه، د الازهر اوسني رئيس، داکتر احمد الطيب، د مصر د اوقافو پخواني وزير او ستر مفتي، ډاکټر علي جمعه، ديوبنديان او مشهور عالم، ډاکټر جاويد احمد غامدي ټول په دې باور دي چې د طبي اړتيا او متخصص ډاکټر له مشورې پرته جواز نه لري. تر ډيره حده، په ختيځو ټولنو کې چې مذهبي اصول، کلتوري ارزښتونه او ټولنيز معيارونه حاکم دي، نربنځي/ هيجړا ګان د خپل معرفت او شهوت په اړه چوپ پاتي کيږي. دوئ د خپلو کورنيو د غړو په منځ کې هم سپک سپاند وي او له کورونو څخه شړل کيږي. بلکې د هغې ګناه ګناهګاران بلل کيږي چې دوئ نه ده کړې. دا ډيره محرومه او بې وزلې طبقه ده او د ټولنې کوڅه ډب او سرسبيله خلک ورته د جنسي غريزې د سړولو د يوې وسيلې په توګه ګوري.**

**د خواجه يا خوجه کلمه د بزرګ، لاربنود او ميلمه پال معنا لري؛ خو کله چې د سرا له کلمې سره ترکيب شي نو بيا ورڅخه مطلب خادم، خصي او نربنځې وي. د ترکانو عثماني سلطنت، د ايران د صفويانو او قارجاريانو په دربارونو او د هندوستان د مغلو په قصرونو کې به شاهانو او شهزاد ګانو د خپلو ميرمنو او شاهزادګيو د خدمت لپاره دغه ډول خلک استخدامول ترڅو معشوقې او لونې يې د جنسي تيري څخه خوندي وي.**

**کرامت د يو شمير معتقدينو په ګمان ديته ويل کيږي چې يو څوک خپل کچکول په سيند کې غوپه کړي او دولس کاله وروسته ډوبه بيرې او په هغې کې د کونډې زوئ له ناوې سره ژوندي او سلامت را وباسي. يا دا چې يو تن د جمعې په ورځ په ديوال سور شي، په مکه کې لمونځ اداء کړي او لوړ مازيګر بيرته خپلې خانقاه ته راستون شي!؟ ولی کرامت په عربي متونو او قاموسونو کې عزت، حرمت، شرافت او هغه مقام ته ويل کيږي چې ستر رب د خپل لومړني خليفه ټولو اولادونو ته ښيلی چې ترمخه يې ايجرا، ايزک، مخنث، نربنځي او خواجه سرا هم د انساني کرامت مستحق دي.**

**الله تعالی پخپل سپيڅلي کتاب کې فرمايي:( وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ - او په رښتيا چې موږ د آدم اولادې ته ډير عزت ورکړی او په وچه او لمده کې مو د سپرلۍ او سفر وسائل ورته برابر کړيدي). په قرانکريم کې بل ځای داسې راغلي:( لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ فِي أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ - يقينا چې موږ انسان په ډيرې ښکلې بڼې پيدا کړيدی). د الله تعالی د همدې څرګند تعبير له مخې، دغه ناګڼلي او بې ازراه طبقه د هاغه آدم بابا اولاده ده چې ملائکو ورته د درناوې سر ښکته کړی او کرامت يې د عرش له مالک سره خوندي دی.**

---

**يادونه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، نو د ملکزي نورې ليکنې او مرکې د هغه په فيسبوک، يوتيوب او لنکد ان کې په دې پته لوستلای او کتلای شئ. Wali Malakzay**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ